مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۴/۰۸/۱۴

# د یهودو عادلانه جګړې

(پنځوسمه برخه)



د پارس امپراتور، لوی کوروش په بابل کې
د یهودانو له مشرانو سره په یوه لیدنه کې.

### له بابل څخه اورشلیم ته د اسراییلو ستنیدل او د معبد بیارغونه

په تېرو پاڼو کې مو ولوستل چې د اسراییلو لومړی معبد د سلیمان پاچا لخوا جوړ شوی ؤ چې (د سلیمان معبد) په نوم یادیده او دویم معبد چې د یو تن اسراییلي، زروبابل[1] په مرسته او د هغه تر څارنې لاندې جوړ شو، نو (د زروبابل معبد) په نوم ونومول شو.
زکریا نبي یې په اړه وایی چې د یهوه خدای لخوا یو بل پیغام پر ما نازل شو، هغه وویل:**«د زروبابل په لاسونو د دغه کور (معبد) بنست کېښودل شو او د هغه په لاسونو به پای ته ورسېږي،** نو کله چې دغه کار ترسره شي، نو زما قوم به پوه شي چې ته [زکریا] ما لېږلي یې. که څه هم زما د کور په ودانولو کې وړ پرمختګ نه دی شوی او خلک زړه توري دي خو کله چې زروبابل ووینې چې په کار لګیا دی، هیله‌مند کیږي.» (د زکریا کتاب:۸/۴تر۱۰پورې)

د اسراییلو نبي ارمیا د یهوه خدای لخوا په خپلو وړاندوینو کې د یهودا او اورشلیم ښار په تړاؤ ویلي وو چې «دا هېواد به سر ترپایه په پاتې‌شوني وېرانه بدل شي او **تاسو او ستاسو ګاونډې قومونه به اویا کاله د بابل پاچا بنده‌ګي او**

[1]: زروبابل د داؤد د کورنۍ له شاهزاده‌ګانو څخه ؤ، هغه د پارس پاچا کوروش لخوا په اورشلیم کې د اسراییلو سیاسي مشر ټاکل شوی ؤ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**خدمت وکړئ.** وروسته له دغه اویاوو کلونو به د بابل پاچا او د هغه قوم به د هغه د ګناهونو له کبله مجازات شي او هېواد به یې په تل پاتي ویجاړۍ بدل کړي» (د ارمیا کتاب:۲۵/۱۱-۱۲؛۲۹/۱۰)

د ارمیا پورته وړاندوینه هغه مهال عملي شوه چې په کال (۵۳۹مخزیږدیز) کې د پارس امپراتور هخامنشي کوروش بابل لاندې کړ او د بابل وروستنی پاچا بلشصر په جګړه کې ووژل شو.
د کوروش له بریا وروسته په بابل کې اسراییلو له کوروش پاچا غوښتنه وکړه چې دوی ته دې د ستنیدلو او د یهوه خدای د معبد د بیا ودانولو اجازه ورکړي، هغه وو چې د کوروش د امپراتورۍ په لومړي کال د اسراییلو د ستنیدو په اړه داسي فرمان ورکړای شو:«زه کوروش د پارس امپراتور اعلانوم چې د آسمانونو خدای د نړۍ ټول هېوادونه ما ته رابښلي دي او امر یې راته کړی دی چې د ده لپاره د اورشلیم په ښار کې (چې د یهودا په هېواد دی) کور ودان کړم، په دې بنسټ ټول هغه یهودان چې زما په هېواد کې اوسټوګن دي هر څوک چې وغواړي هغه ځای ته ستنیدلی شي او د اسراییلو د خدای یهوه کور په اورشلیم کې ودان کړي، خدای دې له دوی سره مل شي! د دغو یهودانو ګاونډیان باید دوی ته سره او سپین زر، د لارې بنه توښه او څاروي ورکړي او د یهوه کور لپاره دې ډالۍ هم وړاندې کړي.» (د عزرا کتاب:۱/۲تر۴پورې ؛ د پاچاهانو دویم کتاب:۳۶/۲۲-۲۳)
همدا رنګه «کوروش د یهوه خدای د کور هغه لوړ بیه توکي چې نبوکدنصر له اورشلیم څخه راوړي او د خپلو خدایانو په معبد کې یې ځای‌پرځای کړي وو، یهودانو ته بېرته ورکړل. کوروش خپل خزانه‌دار (میترا داد) ته امر وکړ چې ټول دغه لوړبیه توکي له خزانې بهر کړي او شیشبصر (چې یهودا ته د ستنیدونکو یهودانو مشر دی) وسپاري.» (د عزرا کتاب:۱/۷-۸)
هغه وو چې د کوروش پاچا د فرمان پر بنسټ له بابل څخه، نه‌څلوېښت‌زره نه‌سوه دوه‌څلوېښت (۴۹۹۴۲)[2] تنه اسراییل (چې یو شمېر غلامان، مینځې او سازغږوونکي هم په کې وو) اورشلیم ته ستانه شول.[3]

له بابل څخه اورشلیم ته د اسراییلو له ستنیدو سره سم د دوی خدای یهوه هم اورشلیم ته د تلو هڅه وکړه، دا مهال یهوه ته غیرت ورغلی وایي چې پر یهودا او اورشلیم باندې غیرت کوي او پر هغو قومونو چې یهودان یې له کچې زیات کړولي دي، ورته په قهر دی:«زه د اورشلیم او یهودا لپاره ډېر غیرت لرم خو هغه قومونه چې په سوله کې اوسیږي سخت ورته په قهر یم، **دوی زما قوم زما له غوښتنې ډېر کړولی دی، نو زه به له لوی رحمت سره اورشلیم ته ستون شم، خپل کور او ټول اورشلیم به بیا ودان شي، د اسراییلو ښارونه به بیا له نېکمرغۍ ډک شي او زه به بیا ځلې اورشلیم ته ډاډ او برکت ورکړم او هلته به استوګن شم.»** (زکریا:۱/۱۴تر۱۷)

ځینې اسراییل په دې هیله وو چې په اورشلیم کې د سلیمان سوځول شوی معبد ورغوي خو هغه مهال په سیمه کې د بابل د واکمنانو او د اسراییلو د ګاونډیانو له مخالفتونو سره مخ شو چې د پارس امپراتور (اردشېر) ته یې لیکلی

---

[2]: هغه مهال چې اسراییل په دوو (شمالي او جنوبي) پاچاهیو وېشل شوي وو، شمالي پاچاهي د (اسراییل) په نوم او جنوبي پاچاهي د (یهودا) په نوم یادیدله. د اسراییل شمالي پاچاهۍ وګړي دوه ځلې تبعید ته اړ شول، لومړی تبعید، د اسراییل پاچا (فقح) د پاچاهۍ پر مهال په (۷۳۲مخزیږدیز کال) کې د اشور پاچا (تغلت فلاسر یا تیګلت پیلسر) د یرغل له امله ترسره شو خو د شړل شویو اسراییلو د شمېر مالومات په لاس کې نه شته.
دویم تبعید هغه مهال رامنځ ته شو چې هوشع د اسراییل پاچا ؤ، د هغه د پاچاهۍ پر مهال د آشور پاچا (شلمناسر) پر اسراییل برید وکړاو درې کاله یې د اسراییل پلازمینه (سامره) کلابند کړه چې په دې بهیر کې د شلمناسر ځای ناستي (سرګون یا سرجون) لخوا د سامرې ښار سقوط وکړ او دویم ځل یې اسراییل آشور ته تبعید کړل چې په دغه تبعید کې د اسراییلو لس قبیلې شاملې وې چې د دویم تعبد کره نېټه او د شړل شویو اسراییلو د شمېر ملومات نه دي څرګند.
د اسراییلو د جنوبي پاچاهۍ یهودا او پلازمیني اورشلیم څخه د شړل شویو اسراییلو شمېر هم سم نه دی، د اورشلیم لومړی تعبید د یهودا پاچا یهویاکین پر مهال ترسره شو، د بابل امپراتور (بختنصر یا نبوکدنصر) د یرغل په پایله کې **لس زره** اسراییل وشړل شول، سربېره پر دې، د **اتو زرو** اسراییلي سرتېرو او سنعتګرانو یادونه هم شوې ده. (د پاچاهانو دویم کتاب:۲۴/۱۴-۱۵.)
او د بختنصر یو قوماندان (نبوزرادان) لخوا **څلور زره شپږ سوه** اسراییل د څو کلونو په اوږدو کې په بېلابېلو مرحلو کې بابل ته شړلي شوي دي. (د ارمیا کتاب:۵۲/۲۸-۳۰پورې.)
په دې توګه د اورشلیم ښار څخه د شړل شویو اسراییلو ټول شمېر **(دوه ویشت زره شپږ سوه)** کسانو ته رسیږي.

[3]: د نحمیا کتاب‌ګوتی:۸/۶۶-۶۷.؛ د عزرا کتاب:۲/۶۴-۶۵.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شکايت وړاندې کړ او د معبد کار د داريوش پاچا د واکمنۍ تر دويم کال پورې په نيمايې کې پاتې شو، د داريوش د پاچاهۍ په دويم کال يهوه خدای د (حجي) نبي په ژبه د يهودا حاکم زروبابل او د يهودو لوی کاهن، يهوشع ته وويل چې د اسراييلو قوم وايي چې اوس‌مهال د يهوه خدای د کور د بيا جوړولو وخت نه دی.
يهوه خدای اسراييلو ته ښوونه کوي چې ستاسو په کړنو او چارو کې له دې کبله برکت نه شته چې زما کور مو وران پرېښی او خپل کورونه مو ودان کړي دي، يهوه خدای د يهودو تېرو کړنو او مجازاتو ته ګوته نيسي او دنده ورکوي چې د معبد چارې پيل کړي:«ښه فکر وکړئ وګورئ څه مو وکړل او پايله يې څه وه؟ اوس غره ته ولاړ شئ لرګي راوړئ او زما کور بيا جوړ کړئ چې له امله يې زه راضي شم **او په هغه ځای کې خلک زما درناوی ترسره کړي.»** (د حجي پاڼي:۱/۷-۸)

د اورشليم د معبد د جوړولو پر مهال يهوه خدای د يو ځواکمن لوټمار او داړه‌مار انسان په څېر د يهودا حاکم زروبابل، د اسراييلو لوی کاهن يهوشع او د اسراييلو قوم ته ډاډ او زړه ورکوي چې ځواکمن او ډاډمن اوسئ او له چا مه وېرېږئ، ځکه چې زه ستاسو سره مل يم، د نړۍ قومونه به له منځه يوسم او د هغوی شتمنۍ به دغه کور ته راوړم:«ډېر ژر به آسمانونه، ځمکه، سيندونه او وچه ولړځوم، **ټول قومونه به له منځه يوسم او د هغوی شتمنۍ به پر دغه کور راټوليې کړم، زه به دا ځای په خپله لويې سره ډک کړم،** د نړۍ ټول سره او سپين زر زما دي، د دغه کور لويي به له هغه پخواني کور څخه ډېره وي او په دغه ځای کې به خپل قوم ته سوله سلامتي وبښم.» (حجي:۲/۶تر۹پورې)

يهوه زياتوي وايي چې «د يهودا حاکم زروبابل ته ووايه! ژر به آسمانونه او ځمکه په لړزه راشي، **د واکمنانو تختونه به يې راچپه کړم، د دوی ځواک له منځ وړم، جګړه‌ييزې ګاډې او سپاره به يې له منځه يوسم، اسونه وژل کيږي او د دوی سپاره سرتيري به يو بل په تورو سره ووژني** نو کله چې دا کړني ترسره شي، ای زروبابله زما خادمه! ته زما لپاره د ګوتې د غمي په څېر يې ځکه چې ته مې غوره کړی يې.» (حجي:۲/۲۱-۲۲)

د معبد د بيا رغولو پر مهال د يهودو قوم د پارس د امپراتورۍ تر خارنې او لاس لاندې ؤ چې دا مهال اسراييلو هېڅ ډول مالي او پوځي ځواک نه درلود چې خپل معبد په زور جوړ کړي، د اسراييلو خدای يهوه هم په دې پوه ؤ چې ځواک نه وي نو هېڅ کار نه کيږي، هغه وو چې يهوه د زکريا نبي په خوله، په اورشليم کې د اسراييلو مشر زروبابل ته زړه او زغم ورکوي وايي:**«نه په واک، نه په ځواک، بلکې زما په روح.** که [ته] هر څو بې‌وسه او بې‌ځواکه وې خو زما د روح په مرسته به بريالی شئ، ای زروبابله! دا د مشکلاتو غر به ستا پر وړاندې راپرېوځي، کله چې ته زما د کور د بنسټ وروستنۍ ډبره[4] کيږدې، خلک به نارې پورته کړي: برکت دې وي پر دغه [کور].» (زکريا:۴/۶-۷)

وروسته له ډېرو ستونزو «د اسرايلو د قوم مشران د يهوه خدای د کور په جوړولو لګيا شول او د حجي نبي او زکريا نبي د هڅوونکو پيغامونو له کبله يې چارې پر مخ رواني شوې چې په پای کې د يهوه خدای کور، د يهوه د امر او د پارس د پاچاهانو: کوروش، داريوش او اردشير د فرمانونو سره سم ورغول شو.»[5] (۵۱۵مخزيږديز کال)

داسې ښکاري چې د اسراييلو خدای يهوه هم د خپل قوم په څېر بې‌وسه او کمزوری شوی ؤ، اسراييلو او د دوی خدای يهوه ونه شول کړای معبد په لنډ او ټاکلې موده کې ورغوي، **«د اسراييلو معبد د څلويښتو کلونو په اوږدو کې جوړ شو.»**[6]

دا مهال په بابل کې د تعبيد شويو اسراييلو لومړی نسل له منځه تللی وو او دويم نسل د بابليانو د ديني ګروهو او دودونو تر اغېز لاندې راغلي وو، ډېرو اسراييلو په بابل کې د اوياوو کلونو په اوږدو کې د بابل د خدايانو لمانځنې هم کولې نو «کله چې اورشليم ته ستانه شول، د بابليانو دين او دودونه يې له ځانه سره يووړل.»[7]

---

[4]: د اسراييلو معبد د بابليانو لخوا له بېخه نه ؤ نړول شوی، يوازې اور وراچول شوی ؤ چې چت يې سوځولی ؤ، د معبد هغه غربي ديوال چې اوس‌مهال د ندبې (ندبه) په نوم يادېږي، د سليمان له معبد پاتې شونی دی.
[5]: د عزرا کتاب:۶/۱۴.
[6]: د زکريا کتاب له سريزې څخه.
[7]: اديان بزرګ جهان: هاشم رضا. ۴۰۵مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

لکه څرنګه چې د اسراییلو خدای وړاندوینه کړې وه ویلي يې وو چې **«د دغه کور لوييي به له هغه پخواني کور څخه ډېره[زياته] وي... .»**[8] خو د یهوه خدای وړاندوینه سرچپه ثابته شوه، داسې چې په دویم معبد کې د تورات کتاب او د تورات صندوق شتون نه درلود «چې اووه لسیزې وړاندې د سلیمان په معبد کې د بابلیانو لخوا سوځول شوي وو»[9] چې له امله يې ډېرو یهودانو لړزانده عقیده درلوده او ځینو اسراییلو چې پر یهوه خدای باندې سسته ګروهه درلودله، دیني فرایض: لمونځ، قرباني، زکات او نور يې نه ترسره کول او یا يې په نه زړه ترسره کول، دوی په خپلو کړنو سره غوښتل خپل خدای یهوه وغولوي او ځینو خو د اسراییلو خدای له سره نه پېژاند، په دې هکله یهوه خدای په اورشلیم کې د اسراییلو وروستي نبي ملاکي[10] ته په څو پیغامونو کې خپل قوم ته ویلي چې اسراییلو وایي چې **«د یهوه خدای لپاره عبادت او اطاعت بېګټې دي،** ولې د خپلو کړنو لپاره یهوه خدای ته ورشو او خپله پښېماني څرګنده کړو؟ وګورئ! څه ډول کبرجن خلک نېکمرغه ژوند لري او بدکاره خلک بریالي کیږي، سره له دې چې ناوړه کړنې ترسره کوي خو یهوه خدای هغوی ته سزا نه ورکوي.» (د ملاکي پاڼې:۳/۱۴-۱۵)

ملاکي نبي د یهوه خدای په یو بل پیغام کې اسراییلو ته وایي چې **«تاسو زما نوم سپکوئ او زما قربانځای مرداروئ، هلته د معیوبو ځارویو [غوښې] راوړئ. وايي: یهوه خدای ته خدمت کول مشکل او ستړی کار دی. زما له اوامرو سرغړونه کوئ، غلاشوي، ګوډ او ناروغه ځاروي زما لپاره قرباني کوئ، فکر کوئ چې زه به ستاسو له لاسه دا ومنم؟ لعنت دې وي پر هغه چې وغواړي ما وغولوي... .»** (ملاکي:۱/۱۲تر۱۴پورې)


(د پارس امپراتور ارد شېر استازی نحمیا[11] د اورشلیم د وران شوي دېوالونه ګوري)

یهوه خدای اسراییلو ته ګوتڅنډنه کوي چې «که ځانونه اصلاح نه کړئ او زما نوم ته درناوی ونه کړئ، تاسو ته به سخته سزا درکړم، د دې پر ځای چې برکت درکړم، لعنت به مو کړم، **په حقیقت کې همدا اوس تاسې د لعنت لاندې یاست** ځکه چې زما اوامرو ته په زړه کې ځای نه ورکوئ. ستاسو زامنو ته به سزا ورکړم، **د هغو ځارویو غوښایه چې زما لپاره يې قرباني کوي، ستاسو پر مخ به يې وولم او تاسو د غوښایو په څېر بهر غورځوم** ... کاهنان باید [اسراییلو ته] قوانین ورزده کړي **چې خلک وکړای شي یهوه خدای وپېژني** ځکه چې کاهنان د یهوه خدای ویاندان دي.» (ملاکي:۲/۱تر۷پورې)

یهوه خدای له خپل قوم شکایت کوي چې زکات نه ورکوي چې په دې توګه له خپل خدای څخه غلا کوي، یهوه له اسراییلو پوښتنه کوي:«څوک له خپل خدای څخه غلا کوي؟ خو تاسو له ما څخه غلا کړې ده!
ـ اسراییل پوښتنه کوې: موخه څه ده؟

---

[8]: د حجي پاڼې:۲/۹.
[9]: تاریخ جامع ادیان: جان بي ناس، فارسي ژباړه: علي اصغر حکمت. ۵۲۷مخ؛ قدس آرمان هر مسلمان: ډاکټر محمد یوسف قرضاوي. ۵۸مخ.
[10]: ملاکي نبي سل کاله وروسته له حجي او زکریا نبي څخه په اسراییلو کې نبوت کړی چې د ده او یحی او عیسی تر منځ (۴۰۰) کاله واټن شتون لري (چې د دغو څلورو سوو کلونو په منځ کې په اسراییلو کې کوم نبي نه دی راغلی. (د ملاکي د پاڼو له لنډکی سریزې څخه)
[11]: نحمیا نبي د پارس امپراتور اردشېر ساقي (جام دار) ؤ، هغه د اردشېر لخوا په (۴۴۵مخېږدیز کال) کې اورشلیم ته د هغه د استازي او حاکم په توګه واستول شو او د اورشلیم ښار وران شوي دېوالونه يې جوړ کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ـ موخه مې لسمه برخه او ډالۍ دي. ای د اسراييلو قومه! تاسو ټول ښرل شوي (ملعون) ياست ځکه چې زما له مال څخه غلا کوئ، په لسو کې يو، په پوره توګه زما کور ته راوړئ،** تر څو هلته کافي خواړه شتون ولري.»
(ملاکي:۳/۸تر۱۰پورې)

نېټه:۱۴۰۳/۵/۲۴ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلی محمد انور اڅړ نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ